د افغانستان اسلامي جمهوریت ملي شورا
ولسی جرگه
د دیني، کلتوري، پوهني، لوړو زده کړو، ارشاد، حج او اوقافو چارو کمیسیون

شوراي ملی جمهوری اسلامی افغانستان
ولسی جرگه
کمیسیون اموردینی ،فرهنگی ،معارف، تحصیلات عالی، ارشاد، حج و اوقاف

گڼه : ۵۲۶ / ۲۴۸

نېټه : ۱۳۹۹/۱۰/۱۵

د پـارلـمـاني او تقنیني چـارو محترم ریاست ته !

د دیني، کلتوري، پوهني، لوړو زده کړو، ارشاد، حج او اوقافو چارو کمیسیون د سه شنبې ورځې د ۱۳۹۹ کال د مرغومی میاشتې ۱۶ نېټې غونډه کې د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالي اړوند د سیدخیلو کلي ښوونځي جوړېدو په هلکه چې تقریبا (۳۹) میلیونه افغانی په پنځه قسطونو کې ایستل شوی اما ښوونځي ندې جوړ شوې د دویم ځل لپاره غونډه دایره شوه، دا چې د موضوع په تړاو اسناد او شواهد کمیسیون ته رارسیدلي دي چې لدی جملې څخه د قسطونو تادیه، جواز، تذکره، په غیر قانونی ډول سره د تذویری اسنادو طی مراحل په داسې حال کې چې ذکر شوی پروژه نه بودجه کې، نه د بودیجې ضمیمه کې، نه داوطلبی ترسره شوی، نه ساحه کې کار شوی او نه هم منظوری لری، بنا د پوهنی وزارت اړوند مسولین او مربوطه ولایت د یادې پروژې په تړاو ناخبری ښئ او ننی غونډې ته رابلل شوی مسولین دا منی چې د کار له پیل څخه تر آخره جعل او تذویر ترسره شوی، چې دا ټول موارد د څیړنې وړ دی د موضوع په تړاو غونډې ته د پوهني وزارت مالي او اداري معین سره له کاري ټیم، د ښارجوړونې وزارت ساختماني معین سره د پلټنې رییس،د نظارت رییس، د برنامو ټیم، هغه شمیر انجنیران چې نوموړو ښوونځیو څخه یې نظارت کړی، هغه کسان چې د پیسو د ورکړې اسنادو کې یې امضای کړی، د قراردادی شرکت مسول، د ملي پراختیا ریاست اړوند د کور جوړونې رییس او د موضوع په تړاو قراردادی شخص رابلل شوی وه، ترڅو د غونډې گډونوالو ته وضاحت ورکړی، د موضوع په تړاو رابلل شویو مسولینو هر یوه په خپل وار سره معلومات وړاندې کړل، خو د کمیسیون د غړو قناعت حاصل نشو دا څرگنده شوه چې په یاده سیمه کې ښوونځی ندی جوړ شوی او د خیالی ودانی په نوم په غیر قانونی توگه پیسی ایستل شوی دی، تصمیم ونیول شو ترڅو مکتوب سره مل (۱۱۶) پاڼی کاپی د اسنادو رسما د څیړنې په موخه د لوی څارنوالی محترم مقام ته محول شي، په تړاو یې له خپل لوری داساسی قانون د۱۳۴ مادی حکم سره سم لازم اجراات ترسره څو متخلفین د قانون منگلو ته وسپارل شي.
لطفا پورته ذکر شوی مطلب د لازمو کړنو په موخه د لوی څارنوالی محترم مقام ته واستوئ.

په درناوی

استاد نعمت الله " کریاب "
د پوهني او لوړو زده کړو چارو کمیسیون مرستیال

PAJHWOK
Afghan News